AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ
۲۰۲۴/۱۲/۰۷

# د ښاغلي عبدالباري جهاني په خُواب کې

(پنځمه او وروستۍ برخه)




د وزیرستان او لویي پکتیا د فاتحو سرتېرو پوځي پرېډ، د نادر شاه پر وړاندې. ۱۹۳۰ز، کال.
(د ښاغلي محمد فري له فیسبوک څخه)

**د جنرال نادر خان پرلهپسي ماتې[1] او هغوی چې پاچاهان جوړوي**

سره له دې چې انګرېزانو له جنرال نادر خان سره د وسلو او پیسو مرستې کړې وې[2] او د خوست ځینو قومونو یې ملاتړ کاوه، د سقاوي ځواکونو له لوري یې د پکتیا او لوګر په ولایتونو کې پرلهپسې ماتې وخوړې، وړاندې له هغې چې د وزیرستان لښکر له جنرال نادر خان سره یو ځای شي نادر خان او ورونه یې د خپلو ناکامیو له کبله سخت مایوسه

[1]: د ډېرو مالوماتو لپاره د جرنیل یار محمد خان وزیري کتاب: تاریخ استقلال و نجات افغانستان، د دري ژباړې تعلیقات ولولئ.
[2]: سید مهدي فرخ: تاریخ سیاسي افغانستان. ۵۰۷مخ.؛ مهاجر افغان: نادر خان و خاندان او. ۲۶-۲۷مخونه.؛ میر غلام محی الدین انیس: بحران و نجات. ۱۴۱-۱۴۲مخونه.؛ او نور.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

او ناهیلي شوي وو، جنرال نادر خان خپلو ناکامیو ته له تسلیمۍ وروسته، پرېکړه وکړه چې له جګړې لاس واخلي او هند ته ستون شي، هغه وو چې نادر خان د سویلي قومونو یو شمېر مشران کابل ته ولېږل چې د هغه کورنۍ د سقاؤ زوی له بنده خوشې کړي، افغان مؤرخ مرحوم ملا فیض محمد کاتب یې په اړه لیکي:
«د ۱۳۰۸ل.ل، کال د زمري ۱۵مه نېټه:
په دې ورځ محمد نادر خان یو شمېر علماء او د سویلي قومونو او احمدزیو د قوم ځیني مشران د ملک پیر دوست زوی آدم خان پر ملتیا (چې محمد نادر خان یې د پرلهپسې ژمنو ماتولو له امله په زړه تیې او خپه کړی ؤ) د سقاو زوی ته راولېږل چې د نادر خان د ورونو او خپله کورنۍ چې د سقاؤ په بند کې د ذلت او زحمت شپې ورځې تیرولې له زندانه خوشې او ده ته ولیږي چې بیا نادر خان د ژمنه ماتوونکو افغان قبایلو له منځه ووځي او د بهرنیو هیوادونو پر لور وخوځیږي، نوموړي ډله لکه څرنګه چې راغلي وه، پرته له دې چې موخې ته ورسیږي بېرته ولاړه.»[3]
سربېره پر دې جنرال نادر خان انګرېزانو ته بیا د مرستو لاس اوږد کړ چې په تړاو یې د دوی تر منځ ډېر تبادله شوي اسناد د انګرېزانو په آرشیفونو کې خوندي دي چې له هغو څخه یوازې د ماتې خوړلي جنرال نادر خان غوښتنې له ځایي انګرېز چارواکو څخه او پر ورآندې یې د انګرېزانو د غبرګون یوه بېلګه د ښاغلي ډاکټر عبدالرحمن زماني له لیکنو را اخلو چې وایي:«پخوا له دې چې نادرخان ته د وزیرو د قومونو مرسته ورسیږي نوموړي خپله ماتي منلې وه او له انګرېزانو یې غوښتنه کړې وه چې له حبیب الله کلکاني سره بریتانوي هند ته د نوموړي د بېرته ګرځیدو په اړه خبرې اترې وکړي.
نادرخان حاجي محمد اکبر خان پاړه چنار ته ولیږه او په شفاهي ډول (خو د خپلو یادښتونو د لوستلو له مخې) دا شرایط د انګرېزانو سیاسي استازي (مکوناچي) سره شریک کړل.
له پاړه‌چنار څخه د انګرېزانو سیاسي استازي په ټلګرام کې ولیکل چې **زه دې پایلې ته رسیدلی یم چې د نادر خان اوسنۍ غوښتنه له افغانستان څخه په عزت کې وتل دي.** لکه څرنګه چې نوموړی نشي کولی له حبیب الله سره خبرې اترې وکړي. د بریتانیا له حکومت څخه غواړي چې دا مذاکرات تر سره کړي او د حبیب الله لخوا د هغو شرایطو تضمین وکړي چې په لړ کې به یې نادر خان له افغانستان څخه ووځي. هغه شرطونه چې نادر خان له افغانستان څخه د وتلو لپاره وړاندې کړي وو په لاندې ډول دي:
ـ د نوموړي او پخواني رژیم پلویانو ته عمومي بښنه.
ـ د نوموړي د هغه د حاکمي طبقې د اړوندو چارواکو خوندي وتل.
ـ د نوموړي او د هغه د پلویانو د کورنیو او منقولو توکو لیږدول هند ته.
ـ د حبیب الله په وسیله په افغانستان کې د دوی له شتمنیو څخه د دوی د لګښتونو ورکول او په ورته وخت کې به [د بریتانوي هند] حکومت هم لګښتونه ورکوي.[4]

جنرال نادر خان له انګرېزانو څخه د پورته غوښتنو په څېر ځو ځلې غوښتنې کړې وې چې یوه غوښتنه دا هم وه چې ده ته دې اجازه ورکړای شي له ډیورنډ کرښې ها خوا قبایلو، په ځانګړې توګه د وزیرستان له پرګنو مرسته وغواړي (لکه څرنګه چې غازي یار محمد خان لا له وړاندې جنرال نادر خان ته لیک استولی او ډاډ یې ورکړی ؤ چې د وزیرستان لښکر د تیارسۍ په حالت کې چمتو دی) میر محمد صدیق فرهنګ لیکي چې «محمد نادر خان... انګرېزانو ته رجوع وکړه او له دوی نه یې اجازه وغوښته چې د ډیورنډ د هغه لوري قبایلو مرسته وغواړي، که څه هم د هند حکومت په ښکاره د نوموړي غوښتنه ونه منله خو په عمل کې یې پر وړاندې کوم اقدام هم ونه کړ... د ۱۹۲۹ز، کال د سپتمبر په میاشت کې یو شمېر وزیر د ځاځیو سیمي ته (چې نادر خان له ګردیز څخه تر شاتګ وروسته هلته پناه وړې وه) ورسیدل، د ځاځیو او وزیرو ګډ لښکر د کابل په لور حرکت وکړ.»[5]

د انګرېزانو په سرچینو کې راغلي چې «له انګرېزانو څخه د نادر خان دا غوښتنه چې له ډیورنډ کرښې ها خوا د وزیرو او مسیدو له لښکر څخه دې ګټه واخلي، [انګرېزانو] هوکړه وکړه، تر هغه وخته چې انګرېزانو په جګړه کې د نوموړو قبایلو له ګډون او په ټوله قبایلي سیمه کې د جګړې اور له خپریدو ویره درلوده، د قبایلو سیاسي استازي ته لارښوونه

[3]: فیض محمد کاتب: تذکرالانقلاب، ۳۵۱مخ.
[4]: ډاکټر عبدالرحمن زماني: درخواست نادر خان از انگلیس‌ها برای میانجیگری با حبیب الله کلکانی. (افغان جرمن پورتال.۱ فبروری ۲۰۲۲م.)
[5]:میر محمد صدیق فرهنګ: افغانستان در پنج قرن اخیر. ۳۸۶مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وشوه چې افغانستان ته د اشخاصو او یا لښکر د تګ مخنیوی ونه کړي. د هند حکومت د نامخامخ اجازې دا خبر په ډېره چټکتیا سره د قبایلو ترمنځ خور شو او د وزیرو او مسیدو قومي لښکر له نادر خان سره د مرستې لپاره افغانستان ته ننوت.»[6]

جنرال نادر خان چې په ګردېز او لوګر کې له سقاوېانو سره په جګړو کې پرله‌پسې ماتې خوړلې وې نو ځاځیو ته په یوه منده رسیدلی ؤ، هغه چې یو پوځي جنرال ؤ، پوهیده چې که د ځاځیو په علي‌خېلو کې تر فشار لاندې راشي نو شا ته به یې د تېښتې لاره پرانیستې او لنډ به له ډیورنډ کرښې د انګرېزانو تر لاس لاندې سیمو ته واوړي. خو د وزیرستان (۴۵۰۰) لښکر چې په سپکو او درنو وسلو سمبال وو، د غازي جنرال یار محمد خان وزیري په قومانداني ځاځیو ته ورسید چې د وزیرستان د لښکر په لیدلو، جنرال نادر خان د ډاډ او هیله‌مندی ساه واخیسته. سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل لیکي چې«که چرې په دې موقع نادر خان ته د وزیرو قبایلو امداد نه وی حاصل شوی نو دا یقیني وه چې د سقاوې فوځونو د لاسه به هغه هم په هندوستان کې په پناه اخیستلو مجبور شوی وو.»[7]
کاکاخېل رښتیا وایي، کله چې د وزیرستان سرتیري ځاځیو ته ورسیدل «یوازی د وزیرستان اتلان وو چې د کابل د نیولو پر لور وخوځېدل او نور قومونه له نادر سره د ځاځیو په علي‌خېلو کې پاتې شول»[8] او د کابل د فتح کولو وروسته له نادر خان سره کابل ته راغلل، په دې هکله په خپله جنرال نادر خان په کابل کې ملي شورا ته په خپله لومړنی وینا کې وویل:**«شاه ولي خان، شاه محمود خان او محمدګل خان چې د وزیرو قبایلو سرکرده رهنمایان وو او ځاځي، منګل، ځدراڼ، احمدزي، خوني‌خېل او ګردېزیان، ما له ځان سره واخیستل.»**[9]
همدا خبره غازي یار محمد خان هم کوي وایي چې د ربیع الثاني په دوهویشتمه نېټه د ځاځیو د ګل غونډۍ په لور د خپلو لښکرو سره د علي خېلو څخه وخوځېدم. د ځدرانو او منګلو جنګیالي چې یو سل او پنځوس افراد کېده د خپلو مشرانو (زلمی خان منګل او زمرک خان ځدراڼ) سره په علي خېلو کې پاتې شول.

کابل فتح شو، د پښتنو د هغه قوم لخوا چې پاچاهان جوړوي او پاچاهان پرځوي، دا خلک څوک دي چې هم پاچاهان جوړوي او هم پاچاهان له واکه ګوښه کوي؟ دغه پاچاجوړوونکی قوم، په پېښور کې د هغه مهال انګرېز ګورنر سراولف کارو راپېژني هغه لیکي:
«ده [نادر خان] او د ده ورونو هاشم خان او شاه ولي‌خان متحداً په لومړي سر کې د امان الله خان د بیا راوستلو لپاره هڅه کوله، (البته دا تظاهر ؤ او په دې نامه یې خلک پر ځان راټولول.)
کله چې نادر خان سرحد ته راورسید (کورمې) ته ولاړ چې له اپریدیو او اورکزیو مرسته ترلاسه کړي خو دی ډېر مایوسه شو ځکه چې د هند حکومت د کورمې قبایلو ته اجازه ورنه کړه چې له سرحد څخه تېر شي او د افغانستان په خاوره کې جګړه وکړي. بیا ده د وزیرو او مسعودو [مسیدو] خوا ته مخه کړه (چې هغوی مخکې امان الله خان هم د انګرېزانو پر ضد تشویق کړي وو.) دا خلک د ډیورند کرښې په دواړو خواوو کې ځمکې لري، دلته ده بریالیتوب ترلاسه کړ او زیات شمېر لښکرې ورسره ملګري شوې. په‌خپله له وزیرستان څخه هم خلک ورغلل، همدارنګه زیات شمېر وزیر په افغانستان کې دننه په برمل او نورو برخو کې هم میشته دي، هغه وزیر چې ډیورنډ کرښې ختیځ او جنوب ته په بریتانوي هند پورې تړلي، سره له دې چې د هند حکومت د دوی د تګ ممانعت کاوه خو دوی په ګڼ شمېر [افغانستان ته] ننوتل **او د نادر خان د لښکر پیش‌قراول یې تشکیلاوه. دوی وو چې کابل یې ونیو او د دراني کورنی لپاره یې تاج او تخت بیا ونیوه. دوی په حقیقت کې د هغه وخت پاچا جوړوونکي وو، د سرحد په شاوخوا کې ښکته او پورته هېڅا هغه درس نه دی هېر کړی:(هغه څوک چې پاچاهان جوړوي، هغوی ډېر ژر پاچاهان نسکوروي هم!)**[10]

سره له دې چې پاچاهي ته له رسیدو وروسته نادر شاه خپلو ډېرو کړیو ژمنو ته ژمن پاتې نه شو خو د ځاځیو د علي‌خېلو د ترون لسمه ماده یې تر یو ځایه پلي او د وزیرستان او جنوبي اتلانو د یاد ساتلو یو ځلی د کابل ښار په جنوبي برخه، په یوه ارزښناکه او تاریخي ځلورلاري چې د هېواد ځلورو خواوو ته لویې لارې ترې غځیدلي دي، د ۱۳۰۹ل. ل، کال، د تلې میاشتې په ۲۳مه نېټه جوړ او په رسمي توګه د نادرشاه لخوا پرانیستل شو، د ځلي په ډېرلیک کې د نادرشاه ستاینه

---

6: درخواست نادر خان از انګلیس‌ها برای میانجیګری با حبیب الله کلکانی. (افغان-جرمن پورتال.)
7: سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل: پښتانه د تاریخ په رنا کې. ۸۷۶مخ
8: جنرال یار محمد وزیری: د فغانستان د خپلواکی او نجات تاریخ.
9: سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل: پښتانه د تاریخ په رنا کې. ۸۸۷مخ.
10: سر اولف کارو: پښتانه (پټانز): پښتو ژباړه: الحاج شبر محمد کریمي. ۶۰۸-۶۰۷مخونه)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

شوي او لوی نابغه بلل شوی دی، د جنوبي قومونو او وزیرستان د اتلانو یادونه هم شوي چې د کابل فاتحین همدغه قومونه وو.
د نوموړي خلي پر ډبرلیک باندې په دري ژبه یادښت لیکل شوی چې د ډبرلیک دري متن موږ پښتو ته هم ژباړلی دی:

«یادگار فداکاریها و مجاهدات وطن‌خواهانهٔ یگان قائد معظم و نابغهٔ بزرگ اعنی اعلیحضرت محمد نادرشاه افغان که به استماع فریاد وطن از گوشهٔ مملکت فرانس خود را برای نجات و استخلاص آن در سمت جنوبی رسانده و بعد از قیام بعزم استیصال سارقان در طی اقدامات هشت ماههٔ خود با دلیران جنوبی و **بهجوم وزیرستان** ۱۶میزان هجری ۱۳۰۸شمسی مرکز سلطنت سنیهٔ افغانیه را فتح و تسخیر و بچهٔ سقو را با اراکین خائنش از صفحهٔ افغانستان محو و معدوم نمود.
این خاطرهٔ استوار و آبدهٔ ثابته بنیاد گذاشته شد تا در بادی الانتظار اهل بصیرت، شجاعت و علوهمت این نجات دهندهٔ وطن ثابت بوده ملت افغان این خدمت عالیشان را تقدیر و اینگونه ایثار و فداکاری را در تأمین سعادت حیات اجتماعی خویش تأسی و تعقیب کند.»[11]

*پښتو ژباړه:«د یوازیني لوی مشر او ستر نابغه اعلیحضرت افغان محمد نادر شاه د هڅو او سرښندنو په یاد چې د خپلو هېوادوالو د فریاد اوریدلو له امله، له فرانسې څخه د هېواد د ژغورلو په موخه یې جنوبي لور ته ځان ورساوه چې د اتو میاشتو هلو ځلو وروسته، د جنوبي زړورو له پاځون سره [یو ځای] د غلو د له منځه وړلو په نیت، د ۱۳۰۸ل. ل، کال د تلې په ۱۶مه نېټه **د وزیرستان په یرغل یې د افغان سلطنت مرکز فتحه او لاندې کړ**، د سقاؤ زوی یې له خپلو خاینو چاړواکو سره، د افغانستان له مخپاڼې پاک او ورک کړل او دا تلپاتې خاطره او ثابته نښه کېښودل شوه چې په لومړي لید، لیدونکو ته د هېواد د دغه ژغورونکي میړانه او لوړ همت څرګندوي او افغان ملت به د جناب‌عالي دا خدمت وستایي او د خپل ټولنیز ژوند د نېکمرغۍ لپاره دې د دا ډول قرباني او سرښندنې پیروي وکړي.»*

له دې څوک انکار نه شي کولی چې کابل یوازې د وزیرستان سرتېرو لخوا فتح شوی دی، ومو لوستل چې په خپله نادر شاه، ملي شورا ته په خپله لومړۍ وینا کې وویل چې شاه ولي خان، شاه محمود خان او محمدګل خان یې د وزیرو لښکر سره د لاربښوونکو په توګه ولېږدول او په خپله د ځاځیو، منګلو، ځدرانو، احمدزیو، خوني‌خېلو او ګردېزیانو په ملتیا د کابل پر لور وخوځید.
جنرال نادر خان د یادو قومونو په ملتیا هغه مهال کابل ته راورسید چې کابل د وزیرستان ځواکونو لخوا درې ورځې وړاندې فتح شوی ؤ، د کابل ارګ چې سقاؤ او انډیوالان یې په کې کلابند شوي وو، د تلې میاشتې په ۱۹- ۲۰مه شپه[12] د وزیرو سرتېرو لخوا ونیول شو چې دا مهال جنرال نادر خان په خاځیو کې ځای‌پرځای ؤ او د کابل له فتح درې ورځې وروسته چهلستون ته راورسید چې په تړاؤ یې میر غلام محی الدین انیس لیکي:
۲۳ میزان[13]:«سردار نامدار و ناجی بزرگ که تا امروز مرکز اساسی سوقیات را در علی خیل تشکیل داده بودند امروز به چهل ستون مواصلت فرمودند.»[14]
اوس چې د تاریخي اسنادو په رڼا کې ثابته شوه چې د ژغورنې په جګړه کې کابل د وزیرستان سرتېرو فتح کړی دی او څوک انکار نه شي کولی، نو هغوی چې غازي یار محمد خان وزیری د کابل فاتح نه بولي، دا مانا لري چې د وزیرستان له فاتح لښکر څخه انکار کوي.
په پای کې زما مشوره ښاغلي جهاني او نورو ټولو هغو کسانو ته چې ځانونه د پوهې خاوندان بولي، باید چې له ظالمانو دفاع ونه کړي او هېڅکله دې له حق ویلو ډډه نه کوي، که څه هم رښتیا ویل د هغه او د هغه د خپلوانو په زیان هم وي خو دا ډول کسان زموږ په هېواد کې ډېر لږ موندل کیږي. د رښتیا ویلو په تړاؤ موږ ته قرآن کریم داسې حکم کړی دی:
﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا کُونُوا قَوَّامِینَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰ أَنْفُسِکُمْ أَوِ الْوَالِدَیْنِ وَالْأَقْرَبِینَ﴾
ژباړه:«ای مومنانو په انصاف باندې ولاړ اوسئ، د خدای لپاره شهادت ورکړئ، که دا (شهادت) ستاسو، یا ستاسو د مور، پلار او ستاسو د خپلوانو په زیان وي»

---

[11]: محمد ناصر غرغښت: رهنمای کابل. ۱۰۷-۱۰۶مخونه.
[12]: د نجات خلي په ډبرلیک کې د کابل فتح د ۱۳۰۸ل. ل، کال د تلې میاشتې ۱۶مه نېټه لیکل شوې ده.
[13]: امریکایي لیکواله او ژورنالسته، ریه تالي ستوارټ د جنرال نادر خان راتګ د ۱۳۰۸ل. ل، کال د تلې میاشتې ۲۴مه نېټه لیکي ده. اور په افغانستان کې. ۶۶۰مخ.
[14]: غلام محی الدین انیس: بحران و نجات. ۲۸۴مخ.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ځوک چي جنرال نادر خان او د هغه ورونه د افغانستان د نجات اتلان بولي، هغوی په هيڅ نه دي خبر، نادر خان چي څه کړي تول يې پاچاهی ته د رسيدلو لپاره وو، د مرحوم علامه حبيبي په وينا:**«نادر د هيواد د ژغولو په موخه نه، بلکې د پاچاهۍ د غصب په موخه راغلی وُ، افغانان يې وغولول، له اروپا چي راروان وُ همدا غولوني يې کولي.»**[15]
بايد ووايو چي که جنرال نادر خان د افغانستان پاچاهي نه وای غصب کړي او د انګرېزانو غلامي يې نه وای منلي نو نن ورځ به افغان ولس په دا ډول ناوړه او شرموونکي حالت کې نه وو ښکېل، موږ به له آمو تر اټکه د يو لوی او متحد افغانستان ښتنتان وای، لوی سيند (بحر) ته به مو لاره درلودلی، له ټولو ګاونډيو هيوادونو به زموږ هيواد ډېر پرمخ تللی وُ. نادري کورنۍ چي پاچاهي يې غصب کړي وه، يوازې د خپلې پاچاهۍ د ساتلو په غم کې وه، نه يې د لوی افغانستان هيله درلوده او نه يې د زړه له تله په عمل کې د افغان خاورې غوښتنه وکړه، لنډه دا چي **د افغانستان د تباهۍ اصلي عاملين او مسؤلين نادري کورنۍ ده.**
تېرې پېښې تېرې دي او د تاريخ برخه ګرځېدلي دي، موږ په خپلو ليکنو او ويناوو نه شو کولی ماضي ته ولاړ شو او بدلون په کې راولو خو دا مو له لاسه پوره دي چي تاريخي ظالمان او د پرديو غلامان ونه ستايو او ملاتړ تري ونه کړو، ځوک چي له ظالمانو ملاتړ کوي، هغوی مهاتما ګاندي داسې راپيژني:

**هېڅوک له فاسد ځخه ملاتړ نه کوي، پرته له فاسدانو!**
**هېڅوک له ظالم ځخه دفاع نه کوي، پرته له ظالمانو!**
**هېڅوک له آزادۍ دفاع نه کوي، پرته له آزاد فکرانو!**

نېټه:۱۴۰۳/۹/۱۷ل. ل
**پای**

د ښاغلي محمد انور اخړ نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ.

[15]: مهاجر افغان: نادر خان و خاندان او. ۴۰مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ